

# په افغانستان کې هوايي بريدونه: د ملکي وګړو د ساتنې په موخه غوره کړنې او شته ننګونې

CENTER FOR
CIVILIANS IN CONFLICT
RECOGNIZE. PREVENT. PROTECT. AMEND.

## په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز په هکله:

په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز یو نړیوال بنسټ دی چې په جګړه کې د ملکې وګړو د خوندیتابه د ډاډمنتیا په موخه را منځته شوی دی. په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز ماموریت دا دی چې له وسله والو اړخونو او په جګړه کې له ملکي وګړو سره په ګډه کار وکړي ترڅو د ملکي وګړو د زیانمنیدو د کچې د را ټیټولو او یا مخنیوي په موخه حل لارې را منځ ته او عملي کړي. زموږ لیدلوری داسې یوه نړۍ ده چیرته چې په جګړه کې ښکیل وسله وال اړخونه د ملکي وګړو حقوقو او برم ته پام وکړي، د ملکي وګړو د زیانمن کیدو مخنیوی او په جګړو کې د را ګیر شویو ملکي وګړو ساتنه او په زیان اړونکو کړنو کې بدلون راولي.

په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز په ۲۰۰۳ کال کې د مارلا روزیکا په نامه د بشري حقونو د یوې فعالې پیغلې له لورې، چې په افغانستان او عراق کې یې په جګړه کې د ملکي قربانیانو او د هغو د کورنیو ملاتړ کاوه، را منځ ته شو. د هغې د غوره او یوه غیرې معمولي میراث په توګه، په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز اوس مهال د منځني ختیځ په لر او بر، افریقا، اروپا او جنوبي اسیا د جګړې په سیمه کې فعالیت کوي ترڅو د ملکي وګړو د خوندیتابه په موخه لوړ معیارونه را منځ ته کړي.

په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز کې مونږ په دې باور یو چې په جګړه کې وسله وال اړخونه دا مسؤولیت لري ترڅو د ملکي وګړو د زیانمن کیدو مخنیوی او هغه ته پام وکړي. د دې موخې د ترلاسه کیدو لپاره، موږ په ځانګړو جګړو کې د زیان د را منځ ته کیدو علتونه او له دغو زیانونو سره د مقابلې په موخه د عملي حل لارو ارزونه کوو، همدارنګه په جګړه کې د را ګیر شویو ملکي وګړو د خوندیتابه په موخه د نویو تګلارو او فعالیتونو د منلو او عملي کولو ملاتړ کوو. د ګډ کار د اغیزمنتیا په پوهیدو، موږ له ملکي وګړو، دولتونو، نظامیانو او له سیمه ایزو او نړیوالو بنسټونو سره په ګډه کار کوو ترڅو په جګړه کې د ملکي وګړو خوندیتوب ته پام او هغه بنسټیز کړو.

### مننه

د پالیسۍ د دغه یادښت څیړنه او لیکنه په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز د افغانستان د برخې د څیړونکي قیوم سروش او کره کتنه یې د MENA او د سویلي اسیا د رئیس محمد علی له لورې ترسره شوې ده. نوره کتنه یې په افغانستان کې د هیوادني رئیس سید مظفرشاه او د برنامو د لوی رئیس شانون ګرین له لورې شوې ده. د کاپي د کره کتنې او چاپ ملاتړ یې د MENA او د سویلي اسیا د برنامې د آمر نتالي سیکورسکي او د اړیکو د مرستیالې مونیکا زوراو له لوري شوی ده.

په جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې مرکز له افغان کارکونکو څخه مننه کوي چې د سمونونو د را منځ ته کیدو په موخه یې خپلې اندیښنې شریکې کړې.

اګست ۲۰۲۰

د تلفون شمیره: ۰۰۱۲۰۲۵۵۸۶۹۵۸

بریښنا لیک: comms@civiliansinconflict.org

ویب پاڼه: civiliansinconflict.org

د پاڼې د مخ انځور: سیمه ایز خلک په یوه نړیدلې کور کې سره را ټول شوي، چې د کندوز ولایت د امام صاحب په ولسوالی کې د یوه هوایي برید نښه ګرځیدلی دی. ۲۰۲۰ کال د مارچ ۲۳. انځور د سیمې خلکو له لورې په جګړه کې د ملکي وګړو له مرکز سره شریک شوی دی.

د افغانستان نقشه




سرچینه: https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/map_2347.pdf

# د مطالبو لړلیک


په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز په هکله ............ 1
متنه ............ 1
د افغانستان نقشه ............ 2
اجرائيوي لنډيز ............ 6
سپارښتنې ............ 8
چلند ............ 10
د هوايي بريدونو له امله د ملکي مرګ ژوبلې او زيانونو په هکله معلومات ............ 11
غوره پالیسیګانې او چلندونه ............ 16
د تصادفي مرګ ژوبلې ارزونه او د ښکیلتیا کړنلارې ............ 16
د افغانستان له هوايي تخنیکي همغري کونکي څخه ګټه اخیستنه ............ 17
ننګونې ............ 18
د ۲۰۱۷ کال د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنیوي او را کمولو د پالیسۍ نه پلي کیدل ............ 18
له هوا څخه ځمکې ته د عملیاتو په همغري او اړیکو کې نیمګړتیاوې ............ 19
د موخې په همغري کولو کې د نقشې د کارولو په برخه کې ستونزې ............ 21
په انساني ځواک پورې اړوند استخباراتو تکیه کول ............ 22
د افغانستان د هوايي اسانتیاوو اغیزمنتیا ............ 23
پایله ............ 24

## لنډ نښې

| | |
|---|---|
| AAF | افغان هوايي ځواک |
| AAFC | د افغان هوايي ځواک جزوتامونه |
| AAR | له عمل وروسته بيا کتنه |
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسون |
| ALO | د هوايي اړيکې افسر |
| ANA | افغان ملي اردو |
| ANDSF | افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه |
| ANP | افغان ملي پوليس |
| AOG | وسله واله مخالفه ډله |
| ATAC | افغان تخنيکي هوايي همغږی کونکی |
| CAMB | د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د را کمولو د ارزونې بورډ |
| CAS | نږدې هوايي ملاتړ |
| CDE | د ضمني زيان اټکل |
| CHM | د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې را کمول |
| CIVIC | په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز |
| DOD | د دفاع خانګه |
| GPS | د ځای موندنې نړيوال سيستم |
| IHL | نړيوال بشري قانون |
| IHRL | د بشري حقونو نړيوال قانون |
| IMF | نړيوال نظامي ځواکونه |
| IS-K | د خراسان اسلامي دولت |
| ISR | استخباراتي څيړنه او څارنه |
| LOAC | د وسله والې جګړې قانون |
| LOW | د جګړې قانون |
| MOD | د دفاع وزارت |
| MPC | د ماموريت د پلان کولو واحد |

| | |
|---|---|
| NAP | ملي عملياتي پلان |
| NATO | د شمالي اتلانتيک د تړون سازمان |
| NDS | د ملي امنيت رياست |
| NSC | د ملي امنيت شورا |
| PID | مثبته پيژندګلوي |
| POC | د ملکي وګړو خونديتوب |
| ROE | د ښکيلتوب کړنلاره |
| RS | پريکنده ملاتړ |
| SIGAR | د افغانستان د بيا رغاونې لپاره ځانګړی سر مفتش |
| SOE | د مسلکي ښوونو مرکز |
| SOP | معياري کړنلارې |
| SIGAR | په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه ماموريت |
| US | د امريکا متحده ايالات |
| USFOR-A | افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونه |

## اجرائيوي لنډيز

افغان او نړيوالو ځواکونو د مخالفو وسله والو ډلو په وړاندې تحرکي عمليات په ۲۰۱۹ کال کې زیاد کړل، چې دغې چارې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه د پام وړ زیاته کړه. په ۲۰۱۹ کال کې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (یوناما) د هوایي بریدونو له امله د ملکي وګړو د مړینې ۷۰۰ او د ژوبلې ۳۴۵ پیښې ثبت کړې[1]. په ورته ډول، د یوناما د ۲۰۲۰ کال منځني راپور دې ته اشاره کړې ده چې د افغان ځواکونو هوایي بریدونه د ۲۰۱۹ کال د همدغې مودې په پرتله درې برابره زیاد شوي دي.[2] په ۲۰۱۹ کال کې د هوایي بریدونو له امله د ملکي مرګ ژوبلې نږدې ۷۲ سلنه پیښې د نړیوالو نظامي ځواکونو له لوري را منځ ته شوې دي، د پاتې نږدې ۲۲ سلنې (۱۱۳ مړه او ۱۱۸ ژوبل) نسبت افغان هوایي ځواکونو ته کیږي.[3] د دغو اندیښنونکو شمیرو په رڼا کې، افغان حکومت باید ځان ډاډه کړي چې افغان هوایي ځواکونه له هوایي بریدونو سره مل د ځانګړو ننګونو په هکله پوهیږي او د هوایي بریدونو له امله د ملکې مرګ ژوبلې د را کمولو په موخه سملاسي ګامونه اوچت کړي.

په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز د جګړې په ډګر کې د افغان ملي اردو له قوماندانانو، د افغان هوایي ځواکونو له افسرانو، او د افغان هوایي ځواک له تخنیکي همغږي کونکو سره مرکې کړې دي، ترڅو په لا ښه توګه د فعالیتونو او کړنلارو، همدارنګه د عملیاتو په مهال د ځمکې او هوا تر منځ د همغږۍ په هکله وپوهیږي. په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز په دې پوهیږي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لویه برخه د وسلوالو مخالفو ډلو له لوري را منځ ته کیږي. په داسې حال کې چې افغان دولت په ښکاره توګه د ۲۰۱۷ کال د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د را کمولو او مخنیوي په هکله پالیسي (د ملکي وګړو د خوندیتوب پالیسي) منلې او ژمنه یې کړې چې د خپلو امنیتي ځواکونو له لوري به د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه را ټیټوي. په جګړه کې د ملکي وګړو لپاره مرکز همدارنګه په دې هم خبر دی چې اوس مهال د ملي دفاع وزارت د خپلو هوایي بریدونو پالیسۍ ته بیا کتنه کوي. د پالیسۍ دغه یادښت د افغان پالیسیګانو، فعالیتونو او روزنو د پیاوړي کولو په موخه سپارښتنې کوي ترڅو وکولای شي افغان ځواکونه داسې چمتو کړي چې د ملکي وګړو د خوندیتابه په برخه کې خپلې موخې ترلاسه او د نړیوال بشري قانون او د بشر د حقونو د نړیوال قانون مسؤولیتونو ته ژمن پاتې شي.

د افغان ملي اردو له افسرانو سره  په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز مرکې د ملکي وګړو د زیانونو د را کمیدو په موخه تر لاس لاندې نیول شوي، غوره چلندونه او هغه عملیاتي ننګونې روښانه کوي چې په هوایي عملیاتو کې د ملکې وګړو د مرګ ژوبلې نسبت ورته کیږي.  افغان هوایي ځواکونه یوه ځانګړې پروسه لري چې د تناسب او توپیر په برخه کې د بشر د نړیوال قانون  او همدارنګه د ښکیلتیا د تګلارو او ضمني زیانونو د ارزولو لپاره چلندونه په پام کې نیسي.[4] افغان هوایي تخنیکي همغږي کوونکي هم روزل

---

[1] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت، (په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په هکله د افغانستان کلنی راپور، ۲۰۲۰ کال فبروري) (له دې وروسته د ۲۰۱۹ کال راپور)
https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_annual_report_2019_-_22_february.pdf.

[2] یوناما، (په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په هکله د افغان د کال د نیمایي برخې راپور، ۲۰۲۰ کال جولای) (د ۲۰۲۰ د کال منځنی راپور)
https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_poc_midyear_report_2020_-_27_july-.pdf.

[3] د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت د افغاني ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو روزنه او مرسته کوي او سلا مشوره ورکوي، د ملي دفاع وزارت، او د کورنیو چارو وزارت. په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو ځواکونه د القاعده او د خراسان د اسلامي دولت په وړاندې د ترهګرۍ ضد عملیات کوي او د غوڅ ملاتړ د ماموریت ملاتړ کوي.

[4] افغان د ښکیل کیدو کړنلاره په تاریخي او فرهنګي ودانیو، مذهبي ځایونو او د روغتیا پالنې په مرکزونو په هوایي برید محدویت لګوي

شوي او ګمارل شوي دي ترڅو په نښه کولو په پروسو کې د ملکي وګړو د زيان ښه سمه ارزونه وکړي، دغه ډول ګامونه مثبت دي او که چیرې په مناسبه توګه عملي شي نو کولای شي چې د ملکي وګړو د زيانمن کیدو کچه را ټيټه کړي.

له دغو ښو کړنو سره سره، د هوايي عملياتو په برخه کې يو شمير ننګوونکې شتون لري چې د ملکي وګړو د زيانمن کيدو لامل کيږي. لومړی، په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز دا ومونده چې د افغان ملي اردو په ليکو کې د افسرانو يوه لويه برخه د ملکي وګړو د خونديتابه له پالیسۍ څخه ناخبره دي او يا يې د هغې د عملي کولو په برخه کې کافي روزنه نه ده ليدلې. دوهم، د ځمکنيو ځواکونو او د هوايي ځواکونو تر منځ کمزورې همغږي او همدارنګه د ملکي وګړو د ساتنې په برخه کې د روزل شويو افغان هوايي تخنيکي همغږي کوونکو ناکافي شمير هم د ملکي زيانونو لامل کيږي. دريم، د افغان ملي اردو ګڼ شمير افسران تاريخ تيرې او زړې نقشې کاروي ترڅو معلومات د ځای موندنې نړيوال سيستم ته ورکړي او د هوايي ځواک له پيلوټانو سره په نخښه شوی سيمي همغږې کړي، چې دغه کار د ملکي وګړو د زيانمن کيدو او ورور وژنې د پيښو د را منځ ته کيدو لامل شوی دی.

څلورم، په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز مرکې په ډاګه کوي چې افغان ملي امنيتي او دفاعي ځواکونه په لوړه کچه په انساني ځواک پورې اړوند استخباراتو او د مخبرينو په معلوماتو تکيه کوي ترڅو ډاډمن کړي چې ملکي وګړي نه په نښه کيږي او يا هم په تیروتنې سره د هوايي بريدونو له امله نه اغيزمن کيږي. نږدې هر افسر چې په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز مرکه ورسره کړې دا په ګوته کوي چې چې د ټولنې دمعلوماتو ورکونکو وګړو سره همغږي کول د دوی ترټولو معمول تاکتيک دی ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ملکي وګړي په نښه شوي سيمو کې شتون نه لري، په داسې حال کې چې د معلوماتو د راټولولو ټولې قانوني کړنلارې باید وکارول شي، په احتمالي سرچينو تعصبونو له امله په معلوماتو تکيه کول ستونزې جوړونکي دهستونزه جوړونکی ده. د معلوماتو له کره والي څخه د ډاډ د تر لاسه کيدو په موخه له بيلابيلو سرچينو سره د معلوماتو د پرتلې اړتيا ځينې وخت له پامه غورځول کيږي، په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز په دې پوهيږي چې د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د استخباراتي څيړنې او څارنې اسانتياوې  به د سرچينو د محدوديتونو له امله د تل لپاره افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو ته د لاس رسي وړ نه وي. په هر حال، د ژوندانه د بڼې د ټاکلو او بيا وړاندې له څارونکو سره د مرستې په موخه د لاس رسي وړ بې پيلوټه الوتکو بيا بيا کارونه باید تر کتنې لاندې ونيول شي.

پنځم، د افغان ملي اردو ځينې افسران د MD-530 جګړه ايزه چورلکو په څير د هوايي اسانتياوو څرنګوالی تر پوښتنې لاندې راولي، وايي چې دغه ډول چورلکې د افغانستان په څير غرنۍ سيمې ته ډيرې سپکې دي او کيدای شي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې نسبت ورته وشي.

په پای کې، د هوايي بريدونو په بهير کې له تيرو تيروتنو څخه ډير کم پوهاوی دی چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلي نسبت ورته کيږي. په داسې حال کې چې د عمل څخه وروسته بيا کتنې د ملکي وګړو د زيانمن

کيدو په هکله معلومات را نغاړي، خو د پيښو په هکله مفاهموي ارزونه، چې ترڅو د پيښې اصلي علتونه وشنل شي او د زيان د مخنيوي په موخه سمونکي ګامونه پورته شي، نه ترسره کيږي.

افغان دولت د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د کچې د را ټيټولو غوره چلندونه او د ملکي وګړو د خونديتابه پاليسي منلې چې دا د دې هوډ څرګندونه کوي چې د ملکي وګړو د زيانمن کيدو کچه را ټيټه شي. په داسې حال کې چې، لا ډير څه کيدای شي ترڅو په هوايي عملياتو کې د مرګ ژوبلې د کچې د را ټيټولو په موخه له اړونده ننګونو سره مقابله وشي. دلته لاندې د عملي ګامونو يوه ټولګه ده، مونږ تمه لرو چې افغان دولت او ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه وکولای شي له دغې ټولګې څخه کار واخلي ترڅو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه را ټيټه شي. مونږ د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت هڅوو چې د افغان هوايي ځواکونو روزنې او څارنې ته بيا کتنه وکړي ترڅو په دغه يادښت کې په ګوته شوې ننګوونې تر پوښښ لاندې راولي.

## سپارښتنې

### د ملي امنيت د شورا دفتر ته

*د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنيوي او د ژوبلې د کچې د را ټيټولو د پاليسی پلي کول*

- د ونډو او مسؤوليتونو په خير، د ځانګړو تدابيرو رانغاړونکی د عمل داسې يو ملي پلان دې جوړ کړي چې بشپړ او تفصيلي وي، ترڅو د ملکي خلکو د خونديتابه پاليسی ته لومړيتوب ورکړي او پلي کيدل يې ګړندي کړي؛
- له مهمو ملي او نړيوالو سازمانونو څخه دې د مرستې په لټه کې شي ترڅو د عمل ملي پلان جوړ شي؛
- د وزارتونو، افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د پرسونل، د سيمه ايزې حکومتولی د کارکونکو او ښکيلو اړخونو ترمنځ دې د ملکي خلکو د خونديتابه پاليسي او د عمل ملي پلان وويشي ترڅو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنيوي په موخه پوهاوی او ژمنه را منځ ته شي؛
- د ملکي وګړو د خونديتابه د پاليسی او د عمل د ملي پلان د عملي کيدو د پرمختګ په بهير دې يو کلنی راپور وليکي او مهمې موندنې او سپارښتنې دې څرګندې کړي.

### د دفاع وزارت ته

### له هوا څخه ځمکې ته عمليات

- د کاغذي نقشو د سمې کارونې په هکله دې ځمکنيو ځواکونو ته روزنه ورکړي (ډاډ ترلاسه کول چې تازه نقشې شتون لري او تل کارول کيږي) ترڅو له هوا څخه ځمکې ته د ځای موندنې د نړيوال سيستم همغږي را منځ ته او په نښه کول پرمختګ ومومي؛
- د هوايي عملياتو په هکله دې يو تخنيکي لارښود صادر کړي چې د ځواک د کارولو لپاره د قوماندانانو د مقصد، د ملکي وګړو د خونديتابه د پاليسی، او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنيوي او د کچې د را کمولو په برخه کې، همدارنګه د تر نښې لاندې ځانګړو برخو په ګډون د ښکيلتيا د

ډولونو په هکله معلومات وړاندې کړي؛ دغه لاربنود به همدارنګه د عملیاتو او روزنو ترمنځ تخنیکي پروسې همغږې کړي. د دغه لاربنود لپاره کتنې باید د ملکي خلکو شتون په پام کې ونیسي. د یوې مودې لپاره د یوې ودانۍ لیدل او د فعالیتونو نه لیدل باید سم له لاسه د داسې انګیرنې لامل نشي چې په سیمه کې ملکي وګړي شتون نه لري. له سیمه ایزه ځواکونو او له هغو ملکي وګړو سره دې همغږي وکړي چې له سیمې څخه تښتیدلي دي ترڅو د شونتیا تر کچې د ملکي وګړو د نه شتون په هکله ډاډ ترلاسه شي؛

- د ښکیلتیا کړنلارې ته دې بیا کتنه وکړي ترڅو د ملکي خلکو د زیانمن کیدو کچه را ټیټه شي، او همدارنګه د غلیم هغه موخې او پارونکې کړنې چې د دفاعي او تعرضي عملیاتو په موخه د ځواک د کارولو غوښتنه کوي، روښانه شي؛
- د ښکیلتیا په کړنلاره کې دې د ټولو موخو لپاره د مثبتې پیژندنې غوښتنه وکړي، د جګړې په بهیر کې د ځمکنیو ځواکونو، د تخنیکي هوایي کنترول، د جګړې د نامخامخ څارونکو او د استخباراتي څیړنې او څارنې د هر ملاتړ په ګډون باید ټول ګډونوال په دوامداره توګه کار وکړي ترڅو له برید څخه د مخه د مثبتې پیژندنې کره والی تائید، او د توپیر او  ضمني زیانونو له کموالي څخه ډاډ ترلاسه شي؛
- د غوڅ ملاتړ د استخباراتي څیړنې او څارنې او یا هم د لاسرسي وړ بې پیلوټه الوتکو په مرسته دې د ژوند د وړتیاوو نمونه پرمختللې کړې ترڅو عملیاتي چاپریال او موخه په ښه توګه وپیژني په داسې توګه چې د ضمني زیانونو کچه را ټیټه شي؛
- په منظمه اوسیستماتیکه توګه دې استخباراتي څیړنه وکړي ترڅو موخې او ګواښونه وپیژني. له بیلابیلو سرچینو سره د را ټولو شویو معلوماتو پرتله کول، د کره معلوماتو د پرمختللي کیدو سبب کیږي، له سرچینو څخه د تعصبي معلوماتو مخنیوی کوي، او په لا ښه توګه د ملکي وګړو د خوځښت د نمونې پیژندنه شونې کوي. دغه ډول معلومات باید د غلیم موخو ته د نږدې ملکي خلکو په هکله جزئیات را ونغاړي ترڅو له افغان او نړیوالو نظامي ځواکونو سره د پریکړې په برخه کې مرسته وکړي چې آیا د موخې په نښه کولو لاس پورې کړي او که نه. یوه په نښه کونکې کمیټه باید داسې مناسب پروسیجرونه ډاډمن کړي چې د برید له تائید څخه د مخه د معلوماتو په هکله پوښتنه وکړي؛
- روزل شوي افغان هوایي تخنیکي همغږي کونکي دې وګماري او هغوی دې د نږدې هوایي ملاتړ او د افغان هوایي ځواکونو یا د نړیوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ د تعرضي عملیاتو په ګډون د ټولو عملیاتو لپاره په اغیزمنه توګه وکاروي. ډاډ دې ترلاسه کړي چې د افغان هوایي ځواکونو د تخنیکي همغږي کونکو د عمل وروسته بیا کتنې په سمه او بشپړه توګه کتل شوې دي ترڅو د ملکي زیانونو د را کمولو په موخه په نښه کول په ښه ډول ترسره شي؛
- له خوځنده بریدونو سره اړوند معلومات دې وکتل شي ترڅو و ارزوي چې بل کوم کار ترسره  کیدای شوای، چې د ملکي زیانونو کچه را ټیته شي، په داسې حال کې چې په دغه ډول بریدونو کې د وار له مخه پلان شویو بریدونو په پرتله د را منځ ته شویو زیانونو شونتیا لوړه ده.

د ملي امنیت د شورا دفتر او د دفاع وزارت ته

## له برید وروسته ارزونې او د درسونو په ګوته کول

- د افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو ټولو غړو ته دې لارښوونه وشي چې د مراتبو د لړۍ په پام کې نیولو سره دې په ټولو عملیاتو کې د را منځ ته شوې مرګ ژوبلې او همدارنګه د را منځ ته شویو مالي زیانونو په هکله راپور د توحید په مرکز کې د تجزیې او شننې په موخه وړاندې کړي؛
- د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په هکله د راپور لپاره دې ځانګړې فورمې برابرې کړي او د افغانستان د ملي اردو، ملي پولیسو او د افغانستان د ملي امنیت د ریاست په هر واحد کې دې ځانګړی پرسونل د لومړني راپور د لیکلو په موخه وروزي او وګماري، اوس مهال، له عملیاتو څخه وروسته ټولیزې ارزونې د ملکي وګړو د زیان د کچې د را ټیټولو د شننې لپاره په کافي اندازه معلومات نه راټولوي؛
- د افغانستان په ټولو ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو کې دې د مراتبو د لړۍ په پام کې نیولو سره د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د تصادفي پیښو په هکله د راپور جوړولو په موخه معیاري عملیاتي کړنلارې برابرې کړي؛
- معیاري عملیاتي کړنلارې دې پراخه، او له پیښو څخه زده کړل شوي درسونه دې د افغانستان د ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو د اړونده واحدونو په لارښودونو او روزنو کې ځای پر ځای کړای شي. په ثبت او د زده کړای شویو درسونوپه ترسره کولو او عمل کې پاتې راتلل، د توحید د مرکز له لوري د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې او زیانونو د څارلو اغیزمنتیا را کموي.

## د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت ته

- د ملکي وګړو د زیانمن کیدو د کچې د را ټیټولو په موخه دې د افغان هوایي تخنیکي همغږي کونکو او ځمکنیو ځواکونو د قوماندانانو په ګډون افغان هوایي ځواکونو ته د په نښه کولو د غوره چلندونو او همدارنګه د ځمکې او هوا ترمنځ د همغږۍ په هکله روزنې ته دوام ورکړي.

## چلند

دغه راپور ډیری د هغو ټولیزو او نیمه جوړښتي مرکو په شا او خوا را څرخي چې د هرات، کندهار، ننګرهار، کابل او بلخ په ولایتونو کې د افغان ملي اردو له افسرانو، دافغانستان د ملي اردو د ځانګړو عملیاتو له ځواکونو، د مدني فعالانو له ټولنو، سیمه ایزه مخورو او د کندوز، بغلان او ننګرهار ولایت د قربانیانو د کورنیو له غړو سره ترسره شوې دي. په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز د ۲۰۱۹ کال له نومبر څخه تر دسامبر پورې ۲۹ حضوري او یوه تلفوني مرکه ترسره کړې ده. د مرکه شویو وګړو د امنیت او شخصي حریم د خوندي ساتلو په موخه، په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز له مستعار نوم څخه ګټه اخیستې او د هغو وګړو د نوم له یادولو څخه یې ډډه کړې چې مرکې ورسره شوې دي.

په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز د مرکو اصلي موخه د هوایي بریدونو او ځمکنیو ځواکونو د همغږۍ په څرنګوالي، د عملیاتو په بهیر کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنیوي د پالیسۍ په څرنګوالي او له ملکي وګړو څخه د ملاتړ په برخه کې د هوایي ځواکونو په وړاندې د شته ننګونو په هکله پوهاوی دی.

په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز همدارنګه په بلخ کې د افغانستان له هوايي ځواکونو سره مرکه وکړه ترڅو وکولای شي له ځمکنیو ځواکونو سره د هغو د همغږۍ د څرنګوالي او همدارنګه د عملیاتو په بهیر کې د ملکي وګړو د امنیت په هکله د هغو د ډاډ ترلاسه کولو د چلند په اړه ځان وپوهوي. په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز له ملکي وګړو څخه د هوايي بریدونو په مهال، ملکي وګړو ته د زیان اوښتو په اړه د هغوی د تجربو او همدارنګه د هوايي بریدونو د اغیزمنتیا په هکله پوښتنې کړې دي.

په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز، ملکي وګړو ته د زیان اوښتو د پېښو د څرنګوالي او د لا ښه پوهاوي په موخه د یوناما او د افغانستان د بشري حقونو د کمیسون راپورونه هم څېړلي دي او په خپلو چارو کې یې په پام کې نیولي، په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز په خپلواکه توګه دغه اطلاعات نه دي تائید کړي، خو سره له دې، د هر بنسټ اړوند د پېژندنې لار تړلو ته د لاس رسي ور ده. په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز همدارنګه نورې څېړنیزه مقالې، ورځ پاڼې او نورې سرچینې چې د هوايي بریدونو له امله د ملکي وګړو د زیانمن کېدو په اړه دي، کتلي ترڅو د زیانونو د بېلابېلو بېلګو او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په هکله د اړونده معلوماتو په باره کې ښه وپوهیږي.

## د هوايي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو او زیانونو په هکله معلومات

یوناما د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۳۰۸ پېښې ثبت کړې دي، چې ۶۱ سلنه یې د افغان هوايي ځواکونو د بریدونو او ۳۴ سلنه یې د نړیوالو نظامي ځواکونو د بریدونو له امله را منځ ته شوي.[5] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما[6] د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۱۰۴۵ پېښې (۷۰۰ مړه او ۳۴۵ تنه ژوبل) چې د هوايي بریدونو له امله وې ثبت کړې، چې دغه شمیرې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۳ سلنه لوړوالی ښیي او ۲۰۱۹ کال پنځم پرلپسې کال یادوي چې په هغه کې د هوايي بریدونو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه لوړه ده.[7] یوناما د ملکي مرګ ژوبلې ۷۲ سلنه نړیوالو ځواکونو ته راجع کوي چې د افغان




[5] یوناما، د ۲۰۲۰ کال د نیمايي راپور، پاڼه، ۱۶.

[6] یوناما د بشر د حقوقو د تر پښو لاندې کولو د پېښو د ډېریدو او د دولت پلوه وسله والو له لوري د ناوړه چال چلند خپلې اندیښنې څرګندې کړې دي. د بشر د حقونو د څار ډلې راپور خپور کړ چې په هغه کې د سي آی ای تر ملاتړ لاندې وسله والو ته کتنه شوې ده. دغه ځواکونه په ناقانونه چال چلند، اجباري نادرکه کیدو، خپل سرو هوايي بریدونو، په روغتیايي مرکزونو باند په بریدونو او د بشر پالنې د نورو نړیوالو قوانینو تر پښو لاندې کولو کې ښکیل دي. د بشر د حقوقو د څار راپور ته مراجعه وکړئ: (هغوی د سي آی ای د ملاتړ لرونکو افغان ځواکونو د شپېنیو چاپو په مهال ډېرو ته ورته دېزې وکړې) د ۲۰۱۹ کال اکتوبر، https://www.hrw.org/news/2019/10/31/afghanistan-cia-backed-forces-commit-atrocities.

[7] یوناما، د ۲۰۱۹ کال کلنی راپور، ۱۶ پاڼه

[8] همغه

ځواکونو په هوايي ملاتړ سره يې له ټولو ډېر عمليات ترسره کړي دي. د افغانستان هوايي ځواکونه د ۲۲ سلنه مرګ ژوبلې مسؤول بلل کېږي.[8]

د پام وړ ټکی دا دی چې د يوناما د کال د نيمايي راپور د ۲۰۲۰ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله د افغان هوايي ځواکونو د هوايي بريدونو درې برابره ډېر والی ښيي چې د ۱۸۹ تنه ملکې وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوي دي.[9]

سرچينه: د يوناما د ۲۰۱۹ کال راپور

د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کميسون په ۲۰۱۹ کال کې د افغان او نړيوالو نظامي ځواکونو د هوايي بريدونو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د ۷۵۰ پيښو (۴۸۵ مړه او ۲۶۵ کسه ژوبل) راپور ورکړی دی.[10] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسون د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۸،۲ سلنه نړيوالو ځواکونو، ۱۱ سلنه افغان امنيتي ځواکونو، ۷،۷۱ سلنه طالبانو، ۱۴ سلنه د خراسان اسلامي دولت او ۹ سلنه د دولت نورو ناپيژندل شويو وسله والو مخالفو ډلو ته راجع کوي.[11] په همدې حال کې، غوڅ ملاتړ چې د ملکي مرګ ژوبلې نسبت نورو سرچينو او يا هم ورانکارو ډلو ته کوي خو د پيښو د څرنګوالي ځانګړې يادونه نه کوي. د ملکي مرګ ژوبلې يوواځې ۲ سلنه نړيوالو ځواکونو، ۳ سلنه افغان ځواکونو، ۳۵ سلنه طالبانو، ۷ سلنه د خراسان اسلامي دولت او ۴۸ سلنه د دولت نورو مخالفو ناپيژانده ډلو ته راجع کوي.[12] په دغو شميرو کې د نه همغږۍ له شتون سره سره، روښانه ده چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله په دوام لرونکې توګه ډېره شوې ده. د افغانستان خلک چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې له امله په غوصه دي، د هيواد په لر او بر کې يې د هوايي بريدونو په وړاندې په اعتراضونو لاس پورې کړی دی.[13]

[9] د يوناما د ۲۰۲۰ کال منځنی راپور، ۱۶ پانه

[10] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسون، (په ۲۰۱۹ کال کې د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کلنی راپور) (د ۲۰۲۰ کال فبروري)، https://www.aihrc.org.af/home/annual-reports/8759. د افغانستان د بشري حقونو کميسون دغه شميرې د افغان ځواکونو او نړيوالو ځواکونو ترمنځ بيلې کړې نه دي.
[11] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسون، (په ۲۰۱۹ کال کې د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کلنی راپور).
[12] سهر محمد علي او مارک ګرلاسکو، (په افغانستان کې د ملکي وګړو د زيانونو را کمول: مخې ته پرته لار) يوواځې امنيت، د ۲۰۲۰ کال فبروري، https://www.justsecurity.org/68810/reduction-of-civilian-harm-in-afghanistan-a-way-forward/.

[13] تميم حميد، (د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په ضد د بغلان د اوسيدونکو لاريون)، طلوع نيوز، ۲۰۱۹ کال د جولای ۹، https://tolonews.com/afghanistan/baghlan-residents-rally-against-civilian-casualties. ، عياض ګل، (په هوايي بريدونو کې د ملکي وګړو د مرګ له امله د افغانانو لاريون)، د امريکا غږ، ۲۰۲۰ کال د جنوري ۲۶، https://www.voanews.com/south-central-asia/afghan-rally-protests-killing-civilians-airstrike. شادي خان سيف، (افغانستان: د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په ضد لاريونونه په تاو تريخوالي واوښتل)، انادولي اجنسي، ۲۰۱۹ کال د سيپتمبر ۲۹، https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/afghanistan-protests-over-civilian-deaths-turn-violent/1597123. مرتضی حسين، (راپوروونو ښيي چې په افغانستان کې يوواځې په لسو هوايي بريدونو کې له ۷۰ څخه ډېر ماشومان وژل شوي دي)، انترسيپټ، ۲۰۲۰ کال د جون ۳، https://theintercept.com/2020/06/03/children-killed-airstrikes-afghanistan-tbij-report/. ۷ افغان ملکي وګړي په هوايي بريد کې ووژل شول، د آزاد افغانستان راډيو.

### د ۲۰۱۸ کال د کندز له پیښې څخه د زده کړای شویو درسونو پېژندنه

د ۲۰۱۸ کال د اپریل د میاشتې په ۲ نېټه د ماسپښین په ۱۲:۳۰ د افغان هوايي ځواک چورلکو د کندز ولایت د دشت ارچې ولسوالۍ کې د خلکو په یوه ۱۵۰۰ کسیزه ډله باندې د راکټونو او ماشیګنو ګولۍ و ورولې، خلک په یوه پرانیسته فضا کې سره را ټول شوي وه ترڅو د مدرسو د قرانکریم د حافظانو د فراغت په مراسمو کې برخه واخلي، افغان دولت ادعا کوي چې دوی په سیمه کې د طالبانو یو لوړ پوړی قوماندان په نښه کړی دی. یوناما څېړنه وکړه او ویې موندله چې لږ تر لږه ۱۰۷ وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې (۳۶ مړه او ۷۱ کسان ژوبل)، چې په دې لړ کې ۸۷ یې ماشومان وه. افغان حکومت د دې پخلی وکړ چې ولسي وګړي مړه شوي دي، او ولسمشر اشرف غني ښښنه وغوښته. له دې سر ه سره افغان دولت ادعا کوي چې د کوټې د شورا او د سرې قطعې د غړو په ګډون د طالبانو مشران ووژل شول او ۳۱ تنه نور طالبان ژوبل شول. دولت یو کمیسون را منځ ته کړ تر څو د پیښې په هکله پلټنه وکړي، خو د ۲۰۲۰ کال د مې تر میاشتې پورې د کمیسون د موندنو په هکله هیڅ ډول راپور را څرګند نشو.

په ۲۰۲۰ کال کې، د دفاع وزارت په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته وویل چې د هوايي بریدونو د ۲۰۱۸ کال پالیسي تر بیا کتنې لاندې ونیول شوه او د وزیر لاسلیک ته په تمه ده. په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته د پالیسۍ د محتویاتو په هکله معلومات نه دي ورکړل شوي. نه دغه پالیسي او نه هم د کندز د پیښې په هکله د کمیسون راپور خپور شوی دی. دا څرګنده نه ده چې کوم مهم درسونه زده کړای شوي دي، کوم سموونکي ګامونه پورته کړای شوي دي او کومې سموونې شوې دي ترڅو په راتلونکې کې د دغه ډول پېښو مخه ونیولای شي.

کله چې په جګړه کې ښکیلو اړخونو هڅه وکړه ترڅو د امریکا د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ د سولې له خبرو ګټه پورته کړي، جګړه ایز فعالیتونه ډیر شوي دي.[14] هوايي بریدونه په ځانګړې توګه د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر په میاشت کې د طالبانو د برید له امله چې د یوه امریکايي سرتیري په ګډون په لسهاوو کسه پکښې ووژل شول د سولې په خبرو کې د ځنډ له را منځ ته کیدو وروسته، په ټولیزه توګه ډیر شوي دي. څو ورځې وروسته، د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر په خپل یوه ټویټ کې ولیکل چې د امریکا نظامي ځواکونه له بل هر وخت څخه ډیره کلکه ضربه طالبانو ته ورکوي [15] او موخه یې په طالبانو د فشار را وستل دي ترڅو د سولې په خبرو کې ګډون وکړي.

د آمریکايي او د افغانستان د هوايي ځواکونو د هوايي بریدونو په ډیریدو سره ملکې وګړو ته د زیان د اوښتو شونتیا د پام وړ ډیره شوه. دغه چاره د ۲۰۱۹ کال د لومړیو ۹ میاشتو په هکله د یوناما په راپور کې یاده شوې ده، چې په هغه کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۷۴ سلنه نړیوالو ځواکونو او ۱۹ سلنه افغان هوايي ځواکونو ته راجع کیږي.[16]

د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۳۱، ۱۱ ملکي کسان د یوه هوايي برید په پایله کې د کندز ولایت د امام صاحب د ولسوالۍ  د یکه توت په کلي کې ژوبل شول چې په دې ډله کې یو نارینه، ۷ ماشومان او ۳ تنه ښځینه

---

[14] محمد علي او ګارلسکو، (په افغانستان کې د ملکي مرګ ژوبلې را کمول: مخې ته پرته لار،)

[15] . ډانلډ ترمپ، طالبانو کله هم داسې کلک ګذارونه نه دي خوړلي لکه اوس یې چې خوري، د یوه غښتلي امریکایي سرتیري په ګډون د ۱۲ تنو وژنه یو ښه کار نه وه. د خبرو اترو د پیل لپاره ښې لارې چارې شتون لري. طالبان پوهیږي چې هغو تیر وتنه وکړه، او هغوی د وضیعت دښه کیدو لپاره هیڅ اند نه لري، ټویټر، د سپټمبر ۱۴، ۳:۰۲ ماسپښین، https://twitter.com/realdonaldtrump/status/1172948822227595266?lang=en

[16] یوناما، د ۲۰۱۹ کال کلنی راپور، ۸ پانه

وې. سیمه ایزه اوسیدونکو په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته وویل چې په احتمالي توګه د طالبانو د قاضي کور د برید موخه وه چې له دغه کلي سره نږدې پروت دی، د برید پر مهال قاضي په خپل کور کې نه وه، او برید په تېروتنې سره د قاضي د ورور کور په نښه کړ.[17]

د دفاع وزارت ویاند دغه برید دروغ وباله او ادعا یې وکړه چې دوی په دغه نیټه د امام صاحب له ولسوالۍ څخه د ملکي مرګ ژوبلې په هکله راپور نه دی ترلاسه کړی.[18] په همدې حال کې، د بشر د حقونو خپلواک کمیسون په یوه بیان کې د دې پخلی وکړ چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله د یوه برید په پایله کې را منځ ته شوې ده، خو روښانه یې نه کړه چې برید چا ترسره کړی دی. [19] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د استازولۍ د هیئت د ۲۰۲۰ کال د لومړی ربعې راپور هم د دغې پېښې او ملکي مرګ ژوبلې پخلی وکړ، او دا ښیي چې برید د افغان هوایي ځواکونو له لوري ترسره شوی دی.[20]

په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز د دفاع له وزارت څخه غواړي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د استازولۍ د هیئت او د بشري حقوقو د کمیسون ضد او نقیضو راپورونو ته په کتو د ټولو ځمکنیو، هوایي او د افغانستان د ملي اردو د ځواکونو د ټولو هغو عملیاتو، له عملیات څخه وروسته څېړنې بیا وڅېړي چې په دغه موده کې په کندوز کې په لاره اچول شوي دي. د افغانستان دولت باید اړینې څېړنې ترسره کړي ترڅو روښانه شي چې څه پېښ شوي دي، کومې پالیسۍ پلې شوې دي او کوم درسونه له دغه ډول عملیاتو څخه زده کېدای شي، دولت باید همدارنګه ډاډ ترلاسه کړي چې له دغو بریدونو څخه زیانمنې شوې کورنۍ، د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي او کچې را ټیټولو له پالیسۍ سره په سمون کې، له دولت څخه مرسته ترلاسه کوي.

## د په نښه کولو پروسې

افغان ځمکني ځواکونه چې کله تر برید لاندې رازي، د غلیم په ارزښتناکه موخو عملیات کوي، او یا هم په لویو کاروانونو کې چې لوژستیکي یا عملیاتي مرستو ته اړمن دي، د متحده ایالاتو له ځواکونو او یا هم له افغان هوایي ځواکونو څخه د هوایي ملاتړ غوښتنه کوي. د افغان ملي اردو او افغان هوایي ځواکونو د هغو افسرانو له وېناوو سره په سمون کې چې مرکې ورسره شوې دي، په له وړاندې پلان شویو عملیاتو کې د موخې د پخلي او د هواي بریدونو د غوښتنې چاره په لاندې توګه ده:

---

[17] د کندز ولایت د امام صاحب د ولسوالۍ د یکه توت په کلي کې له کلیوالو سره د په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز تلفوني مرکه، کندوز، د اپریل ۸، ۲۰۲۰ کال
[18] د دفاع وزارت له ویاند، فواد امان سره د په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز تلفوني مرکه، د اپریل ۱۶، ۲۰۲۰ کال
[19] د بشرد حقونو خپلواک کمیسون، د کندز ولایت د امام صاحب د ولسوالۍ د یکه توت د کلي د برید په هکله، د مارچ ۲۳، ۲۰۲۰ کال، https://www.aihrc.org.af/home/press_release/8804 .

[20] په افغانستان کې د ملګردو ملتونو د مرستیال هیئت، په وسله واله جګړو کې د ملکي وګړو ساتنه، د ۲۰۲۰ کال د لومړیو دریو میاشتو راپور، د ۲۰۲۰ کال اپریل https://unama.unmissionions.org/sites/default/files/unama_protection_of_civilians_in_armed_conflict_-_2020_first_quarter_report_english. pdf .

لومړی پړاو: د ځمکنیو ځواکونو قوماندان د هوایي ماموریت د ملاتړ اړتیا روښانه کوي او غوښتنلیک د لوا قوماندان ته وړاندې کوي.

دوهم پړاو: د لوا قوماندان او یا افغان هوایي تخنیکي همغږی کونکی (په هغه صورت کې چې ټاکل شوی وي) د موخو ځانګړي ټکي مومي او د قول اردو د قوماندان د منظورۍ غوښتنه کوي.

دریم پړاو: افغان هوایي تخنیکي همغږی کونکی غوښتنلیک په قول اردو یا د دفاع په وزارت کې له میشتو د هوایي اړیکو له افسرانو سره شریکوي.[21]

څلورم پړاو: د هوایي اړیکو افسر اطلاعات د الوتنې برنامې ته دننه کوي او د دفاع وزارت د لوی درستیز له منظورۍ وروسته، منظور شوی غوښتنلیک د عملي ګامونو د اوچتولو په موخه د افغانستان هوایي ځواکونو ته ورلیږي.

پنځم پړاو: د افغانستان هوایي ځواکونه غوښتنلیکونو ته لومړیتوب ورکوي او بیایې پړاونه وهي او د تائید وړ بستې د افغانستان هوایي ځواکونو پیلوټانو ته برابروي. هغوی ماموریت په سیمه کې د افغان هوایي تخنیکي همغږي کونکي په همغږۍ، ترسره کوي.

د یادولو وړ ده چې، د A29 الوتکو د غوښتنې پړاو لړ شانته توپیر لري:

لومړی پړاو: د استخباراتو آمر د موخو لړلیک برابروي او د دفاع وزارت د لوی درستیز د منظورۍ غوښتنه کوي.

دوهم پړاو: د ماموریتونو د برنامه جوړونې خونه، منظور شوې موخې پیلوټانو ته ورکوي.

دریم پړاو: د افغانستان د هوایي ځواکونو قوماندان غوښتل شوې الوتکې د بیړنیتوب او شتوالي له مخې برابروي.[22]

---

[21] د افغانستان هوایي تخنیکي همغږي کونکي او د هوایي اړیکو د افسر تر منځ لوی توپیر شتون لري. د افغانستان هوایي تخنیکي همغږی کونکی له ځمکنیو ځواکونو سره مل ده او د غلیم موخې او د برید اړین والی په ګوته کوي. نا دولتي سازمانونه په قول اردو ګانو او د دفاع په وزارت کې میشت دي او موخې بستو ته پراختیا ورکوي او هغه د دفاع وزارت ته وړاندې کوي چې موخو ته لومړیتوب ورکوي او هغه د پالیسیو د په پام کې نیولو او د ملکي وګړو له مرګ ژوبلې څخه د زیږنده ګواښونو لپاره تر تجزیې او شننې لاندې نیسي. سربیره پر دې، په داسې حال کې چې د افغانستان هوایي ځواکونه د اړیکو د افسر لرونکي دي، د افغانستان ځانګړي امنیتي ځواکونه افغان هوایي افسران لري چې د هوایي اړیکو دنده هم په غاړه اخلي.

[22] په جګړه کې د ملکي وګړو لپاره مرکز په دې پوهیږي، له کومه ځایه چې د A29s یو محدود شمیر شتون لري او هغه د لوړ ارزښت لرونکو موخو لپاره کارول کیږي، نو له همدې امله د هغوی ټول عملیاتونه باید د دفاع په وزارت کې پلان شي.

[23] د افغان هوایي ځواک له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو لپاره د مرکز مرکه، کابل، لومړی نمبر مرکه، ۲۰۱۹ کال د ډیسمبر ۲۲؛ د افغان ملي اردو او کماندو له افسرانو سره په جګړه کې د ملکي وګړو لپاره د مرکز مرکه، ۲۰۱ قول اردو، لغمان، ۱، ۲ او ۳ نمبر مرکه، ۲۰۱۹ کال د ډیسمبر ۱۲.

## غوره پالیسیګانې او چلندونه

### د تصادفي مرګ ژوبلې ارزونه او د ښکیلتیا کړنلارې

د هغو وګړو په وینا چې مرکې ورسره شوې دي، د هوايي بریدونو د پلان کولو په مهال د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د را کمولو په موخه د تصادفي زیانونو د اټکل[23]، د سیمې لپاره د مناسبې وسلې د غوره کولو، ماموریت او د وګړو په ګډون یو لړ ټکي په پام کې نیول کیږي.[24] د عملیاتو پر مهال پیلوټان د ملکي وګړو د پیژندنې مسؤولیت لري، او ان که چیرې یو ملکي وګړی هم د برید په سیمه کې شتون ولري، پیلوټ د برید کولو اجازه نه لري.[25]

د افغانستان د هوايي ځواکونو پیلوټان دا واک لري چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په هکله د اندیښنې د شتون په صورت کې، موخې تر برید لاندې ونه نیسي. د آمریکا د متحده ایاالاتو د دفاع د وزارت د اعلامي په بنسټ، د افغانستان د هوايي ځواکونو د ۱۰۵۳ بریدونو له لړ څخه چې د افغانستان د بیا رغاونې د ځانګړي سرمفتش (سیګار) له لوري څېړل شوي دي، ۳۴۹ یې لغوه شوي دي دا ځکه چې پیلوټان د ملکي وګړو د حضور کتونکي وه او یا یې هم د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې له امله اندیښنه درلوده.[26]

د دفاع وزارت د عملیاتو د ادارې د عملیاتي برنامې افسران، په سیمه کې د ملکي وګړو د پیژندنې لپاره له پلان شویو بریدونو څخه ساعتونه یا څو ورځې د مخه د تصادفي زیانونو د اټکل او د ژوندانه د نمونې فعالیتونه په لاره اچوي. دغه ډول ارزونې د شتون په صورت کې، په سیمه ایزه اطلاعاتو او د پریکنده ملاتړ د ماموریت په استخباراتي څارنه باندې تکیه کوي. په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته افسرانو ویلي دي چې ان د نږدې هوايي ملاتړ په مهال، هغوی د ملکي وګړو حضور ته پام کوي او د ښکیل کیدو کړنلارې عملي کوي.[27]

د خوځنده بریدونو په اړه، د ځمکنیو ځواکونو قوماندان باید د برید له غوښتنې څخه د مخه ډاډ ورکړي چې ملکي وګړو ته زیان نه رسیږي. پیلوټان همدارنګه له برید څخه د مخه دنده لري چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې اټکل وکړي او د ځمکنیو ځواکونو د قوماندان د وروستۍ منظورۍ په لټه کې وي. خوځنده په نښه کول په ټولیزه توګه د یوه یا دوه ساعتو په موده کې ترسره کیږي، چې په دې صورت کې پیژندنه، د اطلاعاتو ارزونه او ملکي وګړو ته د متوجه ګواښونو شننه باید په عین وخت کې ترسره شي چې دغه چاره د تیروتنو د ډیریدو لامل کیږي.

د افغانستان هوايي ځواکونو ټولو هغو نظامي ځواکونو ته چې په افغانستان کې فعالیت کوي، د ښکیلتیا داسې کړنلارې په پام کې نیولي چې د وسله والو جګړو د قانون د منلو او د برید له پیل څخه د مخه د یوې

---

[24] په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز مرکه د افغانستان د ملي اردو او کمانډو له افسرانو سره مرکه، ۲۰۱ قل اردو، لغمان، ۱،۲ او ۳ شمیره مرکه، ۲۰۱۹ کال د ډیسمبر ۱۲
[25] د افغانستان د هوايي ځواک له افسر سره د په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز تلفوني مرکه، کابل، لومړۍ شمیره مرکه، د ۲۰۱۹ کال د ډیسمبر ۲۲.

[26] د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت،د (-افغان هوايي تخنیکي همغږي کونکي، د هوايي اړیکو د افسرانو او د افغانستان د هوايي موخه په نښه کونکو افسرانو لپاره د متحده ایالاتو او اطلافي ځواکونو د هڅو ارزونه)، (۲۰۹۱ کال اګست)، https://media.defense.gov/2019/Aug/12/2002170083/-1/-1/1/DODIG-2019-110.PDF.
[27] د افغانستان د ملي اردو د ښوونیز او مسلکي مرکز له مسؤولانو سره ډله ایز بحث او خبرې اترې.

موخې مثبتې پېژندنې ته اړتیا لري. د افغانستان د ښکیلتیا کړنلارې په فرهنګي، غیرې نظامي او مذهبي ځایونو او روغتیایي مرکزونو په بریدونو محدودیت لګوي، مګر دا چې په ناسمه توګه د نظامي موخو لپاره وکارول شي چې په دې صورت کې د اعلی سر قوماندان منظورۍ ته اړتیا لري.[28]

## د افغانستان له هوایي تخنیکي همغږي کونکي څخه ګټه اخیستنه

د افغانستان د هوایي تخنیکي همغږي کونکي درلودل چې په سمه توګه روزل شوی وي له هوا څخه ځمکې ته د عملیاتو د لارښونې لپاره خورا مهمه ده. هغوی کولای شي چې د ملکي وګړو شتون، د ملکي ودانیو او بنسټونو ځای او د ملګرو ځواکونو او د غلیم د ځواکونو ځای وپیژني. د ۲۰۱۹ کال له جنوري څخه را په دې خوا، د افغانستان هوایي ځواکونو د افغانستان د ملي اردو په شپږ واړو قل اردوګانو کې له تخنیکي هوایي همغږي کونکي څخه خپل ملاتړ ډیر کړی دی.[29]

ناټو په ۲۰۱۳ کال کې د هوایي تخنیکي همغږي کونکي روزنه او سمبالونه پیل کړه او د ۲۰۱۹ کال له اګست څخه تر اوس مهاله پورې یې ټول شمیر ۴۰۰ تنو ته رسیږي.[30] هوایي تخنیکي همغږی کونکی په لومړي کې د افغانستان د ملي اردو د سیمه ایزې قول اردو د قوماندانۍ تر پوښښ لاندې وه. په همدې حال کې، د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په میاشت کې د هلمند په ولایت کې د ورور وژنې له یوې پیښې را وروسته چې د افغانستان ۱۰ تنه پولیس پکښې ووژل شول، د افغانستان تخنیکي هوایي همغږي کونکي د لومړنیو مهارتونو د زده کړې په موخه له یوې نوې روزنیزې برنامې سره د افغانستان د هوایي ځواکونو د قوماندانۍ تر پوښښ لاندې راغلل.[31]

د شرایطو لرونکو، مجربو او غښتیلو تخنیکي هغمږي ګونکو روزنه د ناټو د هوایي مرستو د قوماندانۍ اصلي دنده ده. د ۲۰۱۹ کال د جون په میاشت کې د آمریکا د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت له راپور سره سم، د نهو اوونیو په دغه روزنیزه دوره کې باید په کال کې له ۳۰ څخه تر ۴۰ پورې افغان هوایي تخنیکي همغږي کونکي روزل شوي وای.[32] په همدې حال کې، د دفاع وزارت وروستي راپور ادعا وکړه چې هغه افغان ځواکونه چې د آمریکا او د ائتلاف د ځواکونو د سلاکارانو له لوري روزل شوي دي، د هوایي بریدونو

---

[28] د افغانستان د هوایي ځواکونو له مامورینو سره د په جګړه کې د ملکي وګړو لپاره د مرکز مرکه، آیا نیتي، ځایونو او د مرکي شمیرو ته په دغه ځای کې اړتیا لری؟

[29] د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، (په افغانستان که د ټیکاو او امنیت د ښه کیدو راپور)، (جون ۲۰۱۹ کال)، https://media.defense.gov/2019/Jul/12/2002156816/-1/-1/1/ENHANCING-SECURITY-AND-STABILITY-IN-AFGHANISTAN.PDF.

[30] د امریکا د دفاع وزارت، (د روزنې، سلا مشورې، مرستې او سمبالولو په برخه کې د امریکا او ائتلاف د هڅو ارزونه)

[31] همغه

[32] د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، (په افغانستان کې د ټیکاو او امنیت د ښه کیدو په اړه راپور)

[33] فیلیپ والتر ولمن، (افغانان د هوایي او دقیقو هوایي بریدونو په برخه کې کمه روزنه لري، د IG راپور، ستار او ستریپس، د ۲۰۱۹ کال د اګست ۱۳، https://www.stripes.com/news/middle-east/afghans-lack-training-for-airdrops-and-accurate-airstrikes-ig-reports-1.594184. راپور همدارنګه څرګندوي چې د افغان هوایي تخنیکي همغږي کونکي د روزنې برنامه خپلو موخو ته نه ده رسیدلې دا ځکه چې د ناټو سلاکارانو پریکړه کړې ترڅو افغانانو ته د هوایي مسیرونو په همغږۍ کې روزنه ورنکړي ان که چیرې په روزنیزه برنامه کې هم شامل وي.

[34] د امریکا د دفاع وزارت، سر مفتش، (د عمل د آزادۍ عملیات، د امریکا د متحده ایالاتو د استازو جرګې ته د ځانګړي مفتش راپور)، (۲۰۱۹) .https://www.stateoig.gov/system/files/q4fy2019_leadig_ofs_report.pdf

د همغږي کولو توان نه لري او ښايي  چې د هوايي بريدونو په مهال يې د ملکي وګړو او د ملګرو ځواکونو د مرګ ژوبلې د مخنيوي په موخه کافي روزنه نه وي تر لاسه کړي.[33]

سربيره پر دې، د افغانستان له هوايي تخنيکي همغږي کونکي څخه د هوايي بريدونو د ملاتړ په موخه ګټه اخيستنه محدوده ده. د امريکا د دفاع وزارت د لوی مفتش له راپور سره سم، د افغانستان د هوايي ځواکونو بريدونه چې له MD-530 او A-29s څخه کار اخلي يواځې له ۵٫۲ او ۵٫۷ سلنې تر منځ له افغان هوايي تخنيکي همغږي کونکي څخه ګټه اخلي.[34]

## ننګونې

### د ۲۰۱۷ کال د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنيوي او را کمولو د پاليسۍ نه پلي کيدل

په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ومونډله چې د ملي اردو د هغو ۱۶ تنو له لړ څخه چې په کندهار، هرات، لغمان او کابل کې مرکې ورسره شوې دي، ۱۳ تنه يې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنيوي او د کچې د را ټيټولو اړوند د ۲۰۱۷ کال د پاليسۍ په هکله هيڅ معلومات نه لري.

د هرات په ولايت کې د ملي اردو يوه تن افسر په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته وويل چې هغوی د خپلو مشرانو له لارې د دغو پاليسيو په هکله اوريدلي دي، خو د دغو پاليسيو د جزئياتو په هکله په هيڅ هم نه پوهيږي. هغه څرګنده کړه: افسران بايد د دغې پاليسي په هکله په بشپړ ډول پوه شي او د هغې لاربښودونه بايد د برنامو د جوړولو په مهال په پام کې ونيول شي دا ځکه چې د هغو اصلي دنده د ملکي وګړو ساتنه ده.[35] په هرات کې د افغانستان د ملي اردو يوه بل افسر په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته وويل چې بايد د ټيټې کچې قوماندانانو ته د دغې پاليسۍ په هکله روزنه ورکړل شي دا ځکه چې هغوی په جګړه کې ښکيل دي. هغه زياته کړه: بايد د پاليسۍ د پلي کيدو په هکله ليکل شوي عملي لاربښودونه شتون ولري.[36] په کندهار کې د ملي اردو يوه تن افسر په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته وويل چې دغه پاليسي بايد په هره کچه شريکه کړای شي او د هغې د پلي کولو په هکله روزنيزه همغږي وشي.[37] د لغمان په ولايت کې د ملي اردو افسرانو په داسې حال کې چې ورته اندیښنې يې درلودلې په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته وويل چې د دغې پاليسۍ په هکله نه پوهيږي او د هغې د پلي کيدو په هکله يې هيڅ روزنه نه ده ليدلې.[38]

---

[33] په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه د افغانستان د ملي اردو له افسر سره، هرات، ۱ شميره مرکه، د اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال
[33] په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه د افغانستان د ملي اردو افسر، هرات، ۳ شميره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال
[33] په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه د افغانستان د ملي اردو له افسر سره، کندهار، ۲ شميره مرکه، نومبر ۶، ۲۰۱۹ کال
[33] په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه د افغانستان د ملي اردو له افسر سره، لغمان، ۱، ۲ او ۳ شميره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال

[3]5 په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه د افغانستان د ملي اردو له افسر سره، هرات، ۱ شميره مرکه، د اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال
[3]6 په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه د افغانستان د ملي اردو افسر، هرات، ۳ شميره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال
[37] په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه د افغانستان د ملي اردو له افسر سره، کندهار، ۲ شميره مرکه، نومبر ۶، ۲۰۱۹ کال
[3]8په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه د افغانستان د ملي اردو له افسر سره، لغمان، ۱، ۲ او ۳ شميره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال

د دغې پالیسۍ خپرول او د هغې د پلي کیدو پړاونه، له ملکي وګړو څخه د ملاتړ په برخه کې د نظامي ځواکونو په ذهنیت او چلند باندې د اغیزې کولو له اړخه اړین دي. که څیرې قوماندانان دغه پالیسي په واک کې ولري، کولای شي چې د روزنو او همدارنګه د ناستو په مهال هغې ته مراجعه وکړي، له هغې څخه د عملیاتي برنامې په جوړولو کې ګټه واخلي، د ملي امنیت د شورا تر مشرتابه لاندې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د کمښت د ارزونې د بورد په ربعوارو ناستو کې وکارول شي، او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د را کمولو، شته ننګونو او همدارنګه د زده کړای شویو درسونو په اړه د غوره اندونو د ادلون بدلون لپاره یو ښه دریځ وي.

## له هوا څخه ځمکې ته د عملیاتو په همغږي او اړیکو کې نیمګړتیاوې

په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز څیړنې ښيي چې له هوا څخه ځمکې ته ناسمه همغږي د دې لامل کیږي چې ملکي وګړو ته په هوايي بریدونو کې زیان ورسیږي. د افغانستان هوايي تخنیکي همغږي کونکي د لوا په کچه شتون لري خو د کنډک او ټولي په کچه چې په معمولي ډول په لومړۍ کرښه کې په جګړه کې ښکیل دي شتون نه لري. په اصل کې د ټولي او کنډک په کچه د روزل شوي افغان هوايي تخنیکي همغږي کونکي نه شتون په دې معنی ده چې هغوی نشي کولای په عین وخت له هوايي پیلوټانو سره اړیکه ونیسي. په پایله کې، ښایي چې پیلوټان په ناسمه موخه انداخت وکړی او یا هم شونې ده ځمکني ځواکونه بیړنی هوايي ملاتړ ترلاسه نکړي. د بیلګې په توګه، په ۲۰۱۶ کال کې د کندز ولایت د قلعه ذال په ولسوالۍ کې د دولت او طالبانو تر منځ په یوه نښته کې، د افغانستان د هوايي ځواکونو یوې چورلکې په تیر وتنې سره د ملکي وګړو یو کور بمبارد کړ په داسې حال کې چې طالبان سلګونه متره له دغه ځایه څخه لیرې میشت وه.[39]

سربیره پر دې د امریکا د دفاع وزارت د سر مفتش له خبرو سره سم، د افغانستان ملي اردو ډیری وخت په خپلو برنامو جوړولو او ماموریت کې د افغانستان د تخنیکي هوايي همغږي کونکي له شریکولو سره لیواله نه ده. قوماندانان ډیری وخت د افغانستان هوايي تخنیکي همغږي کونکي نورو دندو ته منصوبوي چې په هغو کې د افغانستان د هوايي تخنیکي همغږي کونکي له مهارتونو څخه کار نه اخیستل کیږي. د افغانستان د هوايي تخنیکي همغږي کونکي په نه شتون کې، د افغانستان د ملي اردو د تکتیک د برخې مشران د مخابرې له لارې په مخامخ توګه د افغانستان له هوايي ځواکونو سره خبرې کوي.[40] د ځکمنیو ځواکونو د قوماندانانو او هوايي پیلوټانو تر منځ اړیکه هغه مهال اغیزمنه ده چې موخه خوځنده وي، یونیفورم ونه لري او په داسې سیمه کې فعالیت ولري چې ملکي کسان پکې شتون ولري، دغې اندیښنې ته همدغه شان د یوناما د ۲۰۱۹ کال په راپور کې هم پام شوی دی، او په هغه کې راغلي دي چې، د موخې په ښښه کولو برخه کې د مرستې لپاره په ځمکه کې د روزل شویو افغان هوايي تخنیکي همغږي کونکو نه شتون

---

[39] په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز مرکه د مزار او کندز له مشرانو سره، ۱ شمیره مرکه، د ډیسمبر ۲، ۲۰۱۹ کال
[40] عمومي سرمفتش، (د عمل د آزادۍ څارونکی)، د امریکا د متحده ایالاتو کانګرس ته د عمومي سرمفتش راپور)
[41] یوناما، د ۲۰۱۹ کال راپور، ۶۱ پاڼه
[42] په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز مرکه د افغانستان د ملي اردو له افسر سره، هرات، ۳ شمیره مرکه، د اکتوبر ۳، ۲۰۱۹ کال

هم په زيرتيا او د اړينو ګامونو په اوچتولو اغيزه کړې او له همدې امله به د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شي.[41]

په هرات کې د افغان ملي اردو يوه تن افسر په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته وويل، په هغه وخت کې چې هوايي بريدونه ترسره کيږي د ټولي او له هغه ځخه په ټيټه کچه کې د ځمکې او هوا تر منځ هيڅ اړيکه شتون نه لري.[42] دغه په جګړه کې د ښکيلو خواوو تر منځ د اړيکې نشتون، د موخې په مثبته پيژندنه او د ملکي وګړو د خوځښت په پيژندنه کې د افغانستان د ملي امنيتي او دفاعي ځواکونو وړتيا اغيزمنه کوي. مرکه کيدونکو همدارنګه له لوړ پوړو وګړو سره د اړيکې نيولو په موخه د مخابرې د نشتون په هکله هم انديښنه ځرګنده کړه او راپور يې ورکړ چې په هر کنډک کې نږدې دوه مخابرې شتون لري د هرات له ولايت ځخه د افغان ملي اردو يوه تن افسر ځرګنده کړه چې، د ټولي، ډلګي، او پياده ځواکونو په کچه د غوځ ملاتړ هيڅ مخابره شتون نلري چې وکولای شي له پيلوټانو سره مخامخ اړيکه ټينګه کړي. د دغه ډول دستګاه وو نشتون زمونږ لپاره يوه لويه ستونزه ده. هغه زياته کړه، د واحدونو ترمنځ کمزورې اړيکه زمونږ يوه لومړنۍ ستونزه ده.[43]

> د واحدونو تر منځ کمزورې همغږۍ زمونږ يوه لومړنۍ ستونزه ده

په کندهار کې د ملي اردو افسرانو په جګړه کې د ملکي وګړو له مرکز سره ورته انديښنې شريکې کړې او ځرګنده يې کړه چې ډيری د نړيوالو او افغان هوايي ځواکونو د هوايي بريدونو د وخت په هکله معلومات نلري. د ملي اردو يوه افسر ويلي چې هغو غوښتنه کړې چې د لوا په کچه دې افغان هوايي تخنيکي همغږي کونکي وليږل شي خو غوښتنې ته يې هيڅ ډول ځواب ندی ويل شوی.[44] يوه بل افسر د يوه پر مختللي مخابروي سيستم غوښتنه درلوده دا ځکه چې شته مخابرې له هوايي ځواکونو سره د مخامخ اړيکې نيولو په شونتياوو سمبالې نه دي.[45]

> د افغان ملي اردو افسر په هرات کې

د ځمکنيو ځواکونو يو شمير قوماندانان، د ځمکنيو ځواکونو او پيلوټانو ترمنځ مخامخ اړيکې ته ارزښت ورکوي، نه دا چې د افغان هوايي تخنيکي همغږي کونکي له لوري ترسره شي. دا ځکه چې د هغو په وينا، دغه چاره وخت نيسي، او د دې لامل کيږي چې غليم خپل ځای بدل کړي او ځانګړتياوې په ګړندۍ توګه بدلون ومومي، او په پايله کې د ملکي وګړو د احتمالي مرګ ژوبلې لامل شي. د افغانستان هوايي تخنيکي همغږی يوه بل افسر بيل ليد درلود  او ويل يې چې د ځمکنيو ځواکونو قوماندان له ځواکونو ځخه ساتنې

---

[43] د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، هرات، ۳ شميره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال
[44] د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، کابل، ۱ شميره مرکه، د ډيسمبر ۲۲، ۲۰۱۹ کال

[45] د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، کندهار، ۲ شميره مرکه، د نومبر ۶، ۲۰۱۹ کال
[46] د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، کندهار، ۲ شميره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال

[47] د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، کابل، ۲ شميره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال
[48] د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، کابل، ۲ شميره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال

[49] د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، کندهار، ۲ شميره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال

او د موخو له منځه وړلو ته لومړیتوب ورکوي، په داسې حال کې چې د افغان هوایي تخنیکي همغږي کونکي ونډه د ملکي وګړو د امنیت خوندیتوب ده. د افغانستان هوایي تخنیکي همغږي کونکي بیلابیلو حالاتو ته اشاره وکړه چې په هغه کې د ځمکنیو ځواکونو قوماندان د هوایي ملاتړ غوښتنه کړې او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې احتمال ته یې پام نه و کړی. هغه په داسې یوه کور د برید غوښتنه کړې وه چې کیدای شي ملکي کسان او یا هم د غلیم د جنګیالیو د کورني غړي چې ملکي کسان دي پکې وه.[46]

په دې هکله هم راپورونه شتون لري چې ښایي دولت د افغانستان د هوایي تخنیکي همغږي کونکي تشکیلات له منځه یوسي او د هغو مسؤولیتونه ځمکنیو ځواکونو ته ورکړي.[47] دغه چاره ملکي وګړو ته ګواښ لا ډیروي دا ځکه چې ځمکنیو ځواکونو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د را کمولو، د تصادفي زیانونو د اټکل د فعالیتونو او همدارنګه د موخې د ځایونو د تثبیت په موخه له نقشې څخه د سمې ګټې اخیستو په برخه کې کافي روزنه نه ده لیدلې.

## د موخې په همغږي کولو کې د نقشې د کارولو په برخه کې ستونزې

په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز مرکې ښیي چې د افغانستان د ملي اردو افسران هوایي ځواکونو ته د سمو معلوماتو د ورکولو په موخه د کاغذي نقشو یا هغه څه چې دوی یې خریطه بولي، په کارولو کې ستونزه لري. د ملي اردو له ډیری افسرانو سره چې په هرات او کندهار کې مرکې ورسره شوې دي، ویلي یې دي چې هغوی نه پوهیږي چې څرنګه د کاغذي نقشو له سیستمونو څخه کار واخلي نو له همدې امله یې د نړیوالې ځای موندنې د سیستم لپاره د پام وړ سیمو په هکله ناسم معلومات وړاندې کړي دي، چې دغه چاره د هوایي بریدونو په پایله کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوې ده. په کندهار کې د ملي اردو یوه افسر څرګنده کړه چې د ملي اردو هغه افسران چې د سیمې په هکله کورډینات ورکوي مسلکي نه دي او دغه چاره د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل کیږي.[48] په هرات کې د ملي اردو یوه افسر څرګنده کړه، چې مونږ یوواځې د یوې شپږ میاشتنۍ روزنیزې دورې په موده کې د نقشې سیستم او د هغه لارښودونه نشو زده کولای. د نقشې په هکله زمونږ دغه ناپوهی مونږ یوه ناسم لوري او ناسمې موخې ته بیایي.[49] سربیره پر دې، په هرات کې سرتیرو په دې هکله شکایت کړی چې نقشې زړې دي او ویلي یې دي چې نقشې په ۱۹۸۰ لسیزه پورې اړوندې دي.[50]

له بل اړخه، په کابل او ننګرهار کې د ملي اردو ګمارل شویو افسرانو چې په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز له لوري مرکې ورسره شوې دي د بیلابیلو سیستمونو (لکه افلاین نقشې او د ځای موندنې نړیوال سیستم)

---

50 په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز مرکه د افغانستان د ملي اردو له افسر سره، هرات، ۳ شمیره مرکه، د اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال.
51د امریکا د دفاع وزارت، (په افغانستان کې د امنیت او ټیکاو په ښه کیدو راپور)، او د افغانستان د ملي اردو د مسلکي ښوونو د مرکز له چارواکو سره د په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز بڼله ایز بحث، کابل، د ډیسمبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال.

48د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، کابل، ۲ شمیره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال

49د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، کندهار، ۲ شمیره مرکه، اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال

50 په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز مرکه د افغانستان د ملي اردو له افسر سره، هرات، ۳ شمیره مرکه، د اکتوبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال.
51د امریکا د دفاع وزارت، (په افغانستان کې د امنیت او ټیکاو په ښه کیدو راپور)، او د افغانستان د ملي اردو د مسلکي ښوونو د مرکز له چارواکو سره د په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز بڼله ایز بحث، کابل، د ډیسمبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال.

په هکله ښه روزنه ليدلې وه. د بېلګې په توګه، د افغانستان د ملي اردو د ځانګړو ځواکونو د مسلکي ښوونو مرکز خپلو نويو سرتيرو ته د له هوا څخه ځمکې ته د همغږي کولو او د افغانستان هوايي ځواکونو ته د سيمې د کورډينات د ورکولو په موخه له بيلابيلو سيستمونو څخه د ګټې اخيستو په هکله روزنه ورکوي.[51] د مسلکي ښوونو د مرکز روزونکي په دې باور دي چې د کاغذي نقشو سيستم ګټور دی . هغو ته د دې وړتيا ورکوي ترڅو د ځای موندنې د نړيوال ديجيټل سيستم کورډيناټ له کاغذي نقشو سره چې د يوې سيمې په هکله د جغرافياوي جزئياتو لرونکې دي، او يوواځې د ځای موندنې د نړيوال سيستم په کورډيناټو او معلوماتو پورې محدودې نه دي، سر ورکړي.[52]

بله ستونزه چې په ګوته شوې ده، د افغانستان د ملي اردو د ځواکونو او د غوڅ ملاتړ د ځواکونو له لوري د کاريدونکو نقشو تر منځ توپير دی. د ملي اردو افسران چې د نړيوالو ځواکونو له لوري روزل شوي دي، له نويو نقشو څخه کار اخلي، خو کله چې سيمې ته وليږل شي، له بيلو نقشو څخه ګټه پورته کوي، چې دغه چاره د موخې په ښه کولو د ځای او زيرتيا په برخه کې ننګونې را ولاړوي.

## په انساني ځواک پورې اړونده استخباراتو تکيه کول

افغان امنيتي او دفاعي ځواکونه په خپلو عملياتو کې د خپلې موخې او ملکي وګړو د پيژندنې په برخه کې په انساني ځواک پورې اړونده استخباراتو چې د مخبرينو، د کلي د ملايانو او مشرانو له لارې را ټوليږي تکيه کوي. [53] د توکميزو، کورنيو، او نورو تعصبونو د کچې د را کمولو او همدارنګه په دې هکله د ډاډ د تر لاسه کولو په موخه د اطلاعاتو ارزونه ډيره مهمه ده او ډاډمنه کوي چې موخه په زير سره ټاکل شوې او په سيمه کې ملکي کسان شتون نه لري. د تخنيکي استخباراتي څار او موندنې د وړتيا نه شتون ته په پام له سيمه ايزه مخبرينو څخه کار اخيستنه، د درک وړ ده. په همدې حال کې، هغوی بايد د عملي ګام له اوچتولو د مخه، دغه اطلاعات له بيلابيلو سرچينو سره وڅيړي. د امريکا د متحده ايالاتو له ځواکونو سره په ګډو عملياتو کې، د ناټو له استخباراتي څار او کشفي شونتياوو څخه کار اخيستل کيږي.

د پيلوټانو کتنه او څار هم د موخې د ټاکلو لپاره يوه ښه سرچينه ده. د افغانستان هوايي تخنيکي همغږي کونکي له پيلوټانو څخه په فضا کې د هغو د کتنو په هکله پوښتنې کوي، هغه چاره چې د هوايي اړيکو د افسر له وينا سره سم ډيرى وخت له سيمې څخه له ترلاسه شويو معلوماتو سره توپير لري.[54]

په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز د بيرنۍ پريکړې او تر موخې لاندې سيمه کې د ملکي وګړو د حضور او يا هم د ملکي وګړو د وضيعت په هکله د کافي معلوماتو د نه شتون په صورت کې د تيروتنې د احتمال په هکله انديښنه لري.

---

[52] د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، کابل، ۱ شميره مرکه، د ډيسمبر ۲۳، ۲۰۱۹ کال
[53] د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، ۲۰۱ قل اردو، لغمان، ۲ شميره مرکه، د ډيسمبر ۱۲، ۲۰۱۹ کال
[54] په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز د پام وړ ګروپ خبرې اترې د افغانستان له ملي اردو او د افغانستان له هوايي ځواکونو سره، کندهار، د نومبر ۵، ۲۰۱۹ کال

## د افغانستان د هوايي اسانتياوو اغيزمنتيا

د افغان ملي اردو ځينې افسرانو د MD-530 چورلکو او د هوايي ملاتړ لپاره د هغو د مناسبوالي په هکله اندیښنې درلودې. MD-530 الوتکې د Mi-17s د بدیل په توګه په پام کې نیول شوې دي چې په ۲۰۱۸ کال کې يې د ډېرې ګټې اخيستنې له امله د را لويدو څو پيښې را منځ ته شوې.[55] د افغانستان د ملي اردو افسران په دې باور دي چې MD-530 چورلکې د افغانستان په څير د غرنۍ سيمې لپاره ډېرې سپکې دي او د درندو وسلو لکه DShKs (ماشيندار) لپاره مناسبې نه دي.[56] سربيره پر دې، افسران په دې باور دي چې MD-530 کيداى شي د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شي دا ځکه چې د لايزري لارښود شويو توغنديو اسانتياوې نلري.[57]

د ملي اردو افسران د لغمان په ولايت کې د ۲۰۱ قول اردو له لوري د MD-530 چورلکو د عملياتو په هکله، په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز ته وويل، چې هغوی ليدلي دي چې MD-530 تل نشواى کولاى موخه په سمه توګه په نښه کړي. د چورلکو د سپک وزن له امله، کيداى شي چې د ماشيندار يا توغندي د انداخت په مهال ټکان وکړي يا ولړزيږي. په همدې حال کې د افغانستان د هوايي ځواکونو يو افسر چې په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز مرکه ورسره کړې د افغانستان د ملي اردو د افسرانو څرګندونې يې ونه منلې او ويې ويل چې MD-530 چورلکې د بيې او اغيزمنتيا له اړخه د افغانستان لپاره سمې سمبال دي.[58]

هغه چورلکې چې لومړی په ۲۰۱۵ کال کې افغانستان ته را وليږل شوې، يوواځې دوه ميله ماشينداره چې ميل يې ۰/۵۰ وه (هر يو يې د ۴۰۰ ګوليو په ورتيا) درلودل.[59] دغه وسله وروسته ډيره شوه، او دوه پاډه راکټونه يې درلودل چې په هر يوه کې يې ۷ هايدرا راکټونه وه. په دغو چورلکو باندې د افغانستان د هوايي ځواکونو له لورې سختې نيوکې وشوې ، دا ځکه چې د هغوی په باور ورتيا يې کمه وه او د افغانستان د ځمکې او لوړو غرونو لپاره مناسبې نه وې او واټن يې کم وه.[60] چورلکې له هغو نه کنترول کيدونکو وسلو څخه ګټه اخلي چې موخې ته د رسيدو په مهال چوي او په پايله کې تر لسګونو متر مربع پورې ورانی کوي او زيان اړوي. په همدې حال کې امريکايي چارواکو ټينګار کړی چې دغه چورلکې د افغانستان د هوايي ځواکونو لپاره ګړندۍ او په واقيعت ولاړه د حل لاره ده، دا ځکه چې دغه چورلکې په اسانه الوتنه کوي، په اسانه بيرته جوړيږي او کولای شي چې په بيړه په عمل لاس پورې کړي.

---

55 د افغانستان د بيا رغاونې لپاره ځانګړی سرمفتش، د امريکا د متحده ايالاتو کانګرس ته ربعوار راپور، ۲۰۱۸ کال https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2018-10-30qr.pdf. د افغانستان د هوايي ځواکونو MD-530 چورلکې د نورو ټولو الوتکو په پرتله ډيرې الوتنې کوي، په منځنۍ توګه ۱۰۴۹ ساعته په يوه مياشت کې او د لومړي ځل لپاره د روسي Mi-17 څخه برې تيرې شوې دي

56 د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، ۲۰۱ قل اردو، لغمان، ۲ شميره مرکه، د ډيسمبر ۱۲، ۲۰۱۹ کال.
57 د افغانستان د ملي اردو له افسر سره په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکزه مرکه، ۲۰۱ قل اردو، لغمان، ۲ شميره مرکه، د ډيسمبر ۱۲، ۲۰۱۹ کال.

58 په جګړه کې د ملکي وګړو د مرکز مرکه د افغانستان د هوايي ځواکونو له افسر سره، ۱ شميره مرکه، د ډيسمبر ۲۲، ۲۰۱۹ کال.
59 د هوايي ځواکونو تکنالوژي، (MD 530F) جګړه ايزه چورلکه)، ۲۰۲۰، https://www.airforce-technology.com/projects/md-530f-cayuse-warrior-helicopter/.
60 رود نارلنډ، (د امريکا متحده ايالات لګيا دي ترڅو د افغانستان هوايي ځواکونه وروزي)، نيويارک ټايمز، د سپټمبر ۲۶، ۲۰۱۵ کال https://www.nytimes.com/2015/09/27/world/asia/us-is-struggling-in-its-effort-to-build-an-afghan-air-force.html?_r=0.

## پایله

د پالیسۍ دغه یادښت مهمو ننګونو ته اشاره کوي چې د افغانستان هوايي او دفاعي ځواکونه د عملیاتو په مهال له هغو سره مخامخ دي، او د ملکي مرګ ژوبلې د ډېریدو لامل کیږي. د افغانستان دولت او ځواکونه یې دنده لري چې د خپلو عملیاتو په مهال د ملکي مرګ ژوبلې د را کمولو په موخه هر ډول شوني ګامونه اوچت کړي. په جګړه کې د ملکي وګړو مرکز موندله چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنیوي او را کمولو د پالیسۍ او د هغې د پلي کیدو په هکله د ملي اردو د افسرانو نه پوهاوی، د موخې د په نښه کولو په مهال په زړو نقشو تکیه کول، د هوايي او ځمکنیو ځواکونو تر منځ ناکافي همغږي، د مخبرینو له غرضه ډکو اطلاعاتو څخه ګټه اخیستل او له تیرو تیروتنو څخه د عبرت نه اخیستل هغه څه دي چې د ملکي مرګ ژوبلې کچه یې لوړه کړې ده. که چیرې د افغانستان دولت او امنیتي او دفاعي ځواکونه دغو تشو ته لومړیتوب ورکړي او د هغو د ډکولو ژمنه وکړي، دغه ډیرې تشې به ډکې شي. د افغانستان دولت د خپلو نړیوالو ملګرو په ملاتړ سره کولای شي او باید ویې کړي ترڅو دغه تشې د ملکي وګړو د ځان د خوندیتابه او له اوږدو کړاونو څخه د افغان وګړو د خلاصون لپاره ډکې کړي.